# د بخشش پیسو ورکړه

## د نیوجرزي کنسومرز لیک

د مصرفوونکو لپاره معلوماتي خلاصه

- **په یوه قانع کوونکي نوم مه تېروځئ** ډېرې بیمانه خېریه اداره ډېر اغېز لرونکي نومونه لري یا یې داسې نوم خوښ کړې وي چې د بل کوم عزتمن منل شوي سازمان سره نږدې ورته والی لري.

- **د پېژندنې ثبوت ترې وغواړئ**
دواړه د غوښتونکي او د خېریه ادارې د پېژندنې ثبوت ترې وغواړئ. هر هغه چا باندې شک کوئ چې ډاډمن ځواب نشي درکولې. ټول غوښتونکي باید څرګنده کړي چې آیا دوی رضاکار دي یا د غوښتلو د کار په بدل کې معاش ترلاسه کوي. که دوی تاسې وه نه وايي، نو کولې شئ چې په دغه شمېره 973-504-6215 باندې د نیو جرزي د مصرفوونکو د چارو مدیریت کې د خېریه ادارو د نوم لیکنې برخې ته راپور ورکړئ.

- **په ټیلیفون د غوښتنو څخه ویښ ووسئ**
په لومړي کال باندې ژمنه کولو څخه انکار وکړئ. که خېریه اداریه د پام وړ برېښېده، نو ورڅخه لیکلي معلومات وغواړئ.

- **په ویر ژړا یې دوکه نشئ**
یواځې د یوې سترګې اوبه کوونې "سلګۍ سلګۍ کیسې' په ساده اساس پېسې مه ورکوئ. د سخت بد تقدیر له لاسه د ځپلې ژوند کیسه د درغلګرو عملکارو د خوښې ګایان دی.



امریکایان هر کال خېریو ته بلیونونه ډالره ورکوي. په ټول هېواد کې 1.5 د یو ملیون څخه زیاتو خېریه ادارو څخه انتخاب ځینې وخت سخت کېدې شي. د نیو جرزي اوسېدونکي عموما مستحقو خېریه سازمانونو ته په پراخ لاس خپل وخت او پیسې ورکوي.

اکثره خېریه ادارې ښه شهرت لري او تر خپله وسه هڅه کوي چې خپل راټولې کړې پېسې په نړۍ کې په ارزښتمنو خېریه فعالیتونو کې خرچ کړي. خو ځینې بیا بې ضمیره سازمانونه دي چې د خېریه ادارو په بڼه ځان ظاهروي. دا "جعلي خېریه" سازمانونه د پیسو د راټولولو لپاره مختلفې طریقې استعمالوي په ګډون د ور په ور غوښتنو، کانسرټې، مستقیم ډاګ، په راډیو او ټي وي خواستونه، تیلیفوني مارکیټنګ او انټرنټ.

### چې کله تاسې چنده ورکول غواړئ، نو لاندې خبرو ته پام ولرئ:

- د لوړ فشار ټیلیفوني کالونه چې په تاسې ټینګار کوي چې همدا اوس پیسې ورکړئ.
- فون کالونه چې تاسې ته وايي چې تاسې یوه لویه اندازه پیسې ګټلې دي یا مو بله کومه ارزښتمنه جایزه ګټلې ده او هغه هم یوه "خېراتي" سازمان څخه.
- زنګ وهونکي چې تاسې ته وايي چې د ستاسې چندې د اخستلو لپاره به یو پېغام رسان یا ډیلیوري خدمتګار ستاسې کور ته راشي.
- د پیسو غوښتونکي چې وايي تاسې ورته په تېر وخت کې پیسې ورکړې وې، او حال دا چې تاسې ته هیڅ داسې چنده یاده نه ده چې د دوی سازمان ته مو ورکړې وي.

### خبرې چې باید په پام کې ولرئ

- **خپله خېریه اداره وپېژنئ**
هیڅکله داسې خېریه ادارې ته بخشش مه ورکوئ چې هیڅ یې نه پېژنئ. د لوست مواد ترې وغواړئ او وه یې لولئ. پوښتنې ترې وکړئ. ایماندار خېریه سازمانه تاسې ته دوی په اړه د لوست تشویق درکوي.

800-242-5846 New Jersey Division of Consumer Affairs
www.NJConsumerAffairs.go

## د نورو معلوماتو لپاره

د مدیریت د خېریه ادارو د نوم لیکنې څانګې 19000 خېراتي سازمانونه او 250 مسلکي فنډ راټولوونکي شرکتونه ثبت کړي دي. دا مدیریت د فنډونو د راټولولو فعالیتونه اداره کوي او د غېرقانوني عملیاتو په اړه د راپورونو پلټنه کوي. دا مجرمان محاکمه کوي او په ځینو قضیو کې یې په درغلۍ غوښتل شوې بېرته را ایستلې او اصل څښتنانو ته رسولې دي. خو تاسې سره تر ټولو غوره ژغورنه د ستاسې عامه پوهه او د ورکړل سلا مشورو تعقیب دی.

که غواړوئ وپوهېږئ چې ایا یوه خېریه اداره راجستر شوې ده یا نه، آیا دوی کوم مسلکي فنډ راټولوونکی شرکت کاروي یا نه، یا آیا د اړوندې خېریه موسسې په اړه د شکایتونه تاریخچه شته یا نه، نو د خېریه ادار تودې کرښې ته په 973-504-6215 زنګ ووهئ.  کولې شئ پخپله اړوند مدیریت سره په تماس شئ:

N.J. Office of the Attorney General
Division of Consumer Affairs
Charities Registration Section
P.O. Box 45021
Newark, NJ 07101

**6215-504-973**

یا آنلاین دلته: **NJConsumerAffairs.gov/charities/Pages/default.aspx**

■ **له فشاره یې مه مرعوبېږئ**
اجازه مه ورکوئ چې د فشار لاندې بخشش ورکړئ، او په داسې حال کې چې په هم هغه لحظه کې د پیسو د ورکولو نیت نه لرئ. هیڅ منل شوي قانوني سازمان به له تاسې هیله نه لري چې په هم هغه ځای پېسې وروباسئ، آن که تاسې په تېر وخت پېسې ورکړې هم وي.

■ **په ډاک کې راتلونکې د بخشش خواستونو ته ځیر کېږئ**
په ډاک راستول کېدونکي د چندې خواستونو سره ډېری وخت کوم وړوکی ټیټ بیه ګاڼه یا کوم بل ځیز هم وي او تاسې ته ویل کیږي چې که پېسې مو عطیه کړې نو دا ځیز ځان سره ساتلې شئ. فدرالي قانون له مخې تاسې کولې شئ چې دا ځیز ځان لپاره کېږئ تر هغې چې بېرته یې وه نه غواړي.

■ **د مسلکي فنډ راټولوونکو په اړه پوښتنه وکړئ** خېریه ادارې خیني وخت مسلکي فنډ راټولوونکي په دنده ګماري. دا فنډ راټولوونکي ښايي د فیسونو او د خرڅونو په توګه د راټولې شوې چندې څخه 90% پېسې جېب ته ټېل وهي. له غوښتونکي څخه وغواړئ چې آیا یو مسلکي فنډ راټولوونکي خدمتونه کارول کیږي او، که هم دغه چل دی، نو وپوښتئ چې د ورکړل شوي بخشش څخه څومره سلنۍ یې د هغه اصل خېریه ادارې ته رسي چې د مرستې خواست کوي.

## اضافي سلا مشورې

- خپل کرېډټ کارډ شمېره نااشنا خلکو ته په فون باندې مه ورکوئ!
- داسې لیکونو ته ځواب مه ورکوئ چې تاسې ورسره وړاندې پېسې منلې وې، تر څو چې تاسې 100% ډاډه نه وئ چې واقعاً تاسې د پېسو ژمنه کړې وه. چې کومې پېسې په عطیه کې ورکوئ د هغې ریکارډ ځان سره ساتئ.
- تنګوونکو لیکونو ته پام مه ورکوئ. مستندې خېریه ادارې ښايي تاسې ته یو مودب یادښت درواستوي، خو دوی تاسې تنګوي نه یا د کرېډټ ریټنګ اژانس ته د ستاسې راپور نه ورکوي. که تاسې په ټیلیفون د بخششي پیسو د ورکولو ژمنه وه هم کړله، تاسې د قانون تر مخې هیڅ اړ نه یاست چې دغه چنده خامخا ورکړئ په داسې حال کې چې تاسې د خپلې ژمنه په هکله اوس بشپړ ډاډه نه یاست.
- نغدې مه ورکوئ. چېک ولیکئ او خېریه ادارې په نوم یې جوړ کړئ.

New Jersey Office of the Attorney General

**DIVISION OF CONSUMER AFFAIRS**

**NEWARK**
124Halsey Street
P.O. Box 45025
Newark, NJ 07101
**973-504-6200**
**5846-242-800**
(نیوجرزي څخه زنګ وړیا دی)

**ویب سایټ:**
www.NJConsumerAffairs.gov